**مطبوعاتي اعلاميه**

**سلواغه ۱۳۹۶**

## افغانستان داسې مهال د پرمخيون هېوادونو په کتار کې راغلی چې په تېره لسيزه کې د لومړي ځل لپاره د نړۍ په کچه د بوديجې په روڼتيا کې پرمختګ تکنی شوی دی

*په داسې حال کې چې په نړيواله کچه ناانډولي په ډېرېدو ده او پر حکومتونو د خلکو باور په کمېدو دی، د يو مهم خپلواک نړيوال رپوټ موندنې ښيي چې افغانستان خپلو خلکو ته د بوديجې په اړه د مالوماتو ورکړه ډېره کړې، خو لا هم د نړۍ په کچه په هېوادونو کې د بوديجې د بشپړتيا د تضمين سيستمونه نيمګړي دي.*

کابل، افغانستان – ۲۲ سلواغه ۱۳۹۶: په نړۍ کې ډېری حکومتونه خپلو خلکو ته د پيسو د راټولولو او بېرته لګولو په اړه لږ مالومات ورکوي، خو افغانستان د هغه هېوادونو په کتار کې راغلی چې په تېرو دوو کلونو کې يې د خپلې ملي بوديجې شفافيت ډېر کړی دی – دا موندنې د ۲۰۱۷ کال د پرانستې بوديجې په سروې کې راغلي چې د نړيوالې بوديجې مشارکت **(IBP)** سازمان لخوا ترسره شوې وه.

د بوديجې په اړه د مالوماتو په ورکړه کې له تېرو لسو کلونو راهيسې پرمختګ ليدل کېده، خو د **(IBP)** د ۲۰۱۷ کال د سروې په پايلو کې د نړۍ په کچه د بوديجې د روڼتيا نومرې په اوسط ډول راښکته شوي. په ۲۰۱۵ کې د ۱۰۲ هېوادونو اوسط نومرې ۴۵ وې، خو په ۲۰۱۷ کې همدا نومرې ۴۳ ته راښکته شوې (دا نومرې له سلو څخه ورکول کېږي). له ۲۰۰۸ څخه تر ۲۰۱۵ کال پورې دا اوسط هر کال کابو په دوه نومرو لوړېده – او په تېره لسيزه کې دا لومړی ځل ؤ چې په ۲۰۱۷ کې دا اوسط ښکته راغی. سروې ښيي چې په هرو څلورو هېوادونو کې کابو درې يې د بوديجې په اړه کافي

مالومات نه خپروي – چې د شفافیت په لاره کې دا شاتګ زړه‌ماتوونکی دی.

د (**IBP**) اجرائیه رئیس وارن کرافچیک وویل «پېداسې مهال کې چې په نړۍ کې نااندولي په ډېرېدو ده، په رسنیو او مدني خپلواکی بندیزونه موجود دي، او د خلکو او حکومتونو ترمنځ باور مخ په کمېدو دی، د بودیجې په شفافیت کې کمښت د اندېښنې خبره ده».
د پرانستې بودیجې سروی چې په ۲۰۰۶ کال کې پیل شوې، د نړۍ یوازینۍ خپلواکه پرتلیزه ارزونه ده چې د دولتي بودیجې د بشپړتیا درې ستنې (رونتیا، څار او د خلکو ګډون) څېړي. دا ارزونه په دوه کالو کې یو ځل ترسره کېږي – شپږم پړاو یې په ۲۰۱۷ کال کې د شپږو لویو وچو ۱۱۵ هېوادونه وڅېړل چې د ۲۰۱۵ کال په پرتله پکې ۱۳ نوي هېوادونه شامل شوي وو.

افغانستان له ۲۰۰۸ کال راهیسې د پرانستې بودیجې سروی په لست کې دی او د ۲۰۱۷ کال سروی ښیي چې افغانستان د پرانستې بودیجې په جدول کې بره تللی – دغه جدول په نړیواله کچه د منل شویو معیارونو څخه په ګټنې، هر هېواد ته له سلو څخه نومرې ورکوي. په ۲۰۱۵ کې افغانستان ۴۲ نومرې ګټلي وې چې په ۲۰۱۷ کې ۴۹ ته وختې – یعني خلکو ته د هغه مالوماتو لاسرسی ډېر او اسانه شو چې دولت د بیتالمال په پیسو څه کوي.
د افغانستان رونتیا څار اجراییوي رئیس، سید اکرام افضلي وویل: «د افغانستان نومرې ځکه لوړې شوې چې د کال په منځ کې یې د بودیجې ارزوني راپورونه پر وخت تیار او خپاره کړي وو. دا راپورونه د خلکو لپاره مهم دي او موږ یې هرکلی کوو». د افغانستان رونتیا څار د افغانستان د پرانستې بودیجې سروی ترسره کړې ده. نوموړي زیاته کړه «که څه هم افغانستان د کلنیو راپورونو پر وخت خپرونه کې پاتې راغلی دی».

په ټوله کې د بودیجې په شفافیت کې تر ټولو ډېره ځوړتیا د افریقا په جنوبي صحرایي هېوادونو کې لیدل کېده چې په ۲۰۱۷ کال کې د ۲۰۱۵ کال په پرتله پکې د نومرو اوسط ۱۱ نومرې راوغورځېد. په نورو سیمو کې نومرې په لږ توپیر لوړې یا ښکته تللې وې – خو په آسیا کې اوسط نومرې په لوړه کچه بره تللې وې. د جورجیا، اردن، مکسیکو او سینګال په شمول د ځینو هېوادونو نومرې ډېرې بره لاړې، ځکه دوی د لومړي ځل لپاره په دې سروی کې رانغاړل شوي وو.

د ۲۰۱۷ کال د پرانستې بوديجې سروې ښيي چې ډېرې هېوادونه د بوديجېجوړونې په بهير کې خپلو خلکو ته د ګډون ګټورې موکې نه برابروي – نه خلکو ته د هغه پرېکړو په اړه مالومات ورکوي چې دولت څنګه پيسې راټولوي او لګښتونه څنګه ځانګړي کوي او نه خلکو ته د هغه پرېکړو په اړه مالومات ورکوي چې دولت د خلکو پر وړاندې مسؤول وګڼل شي. د ۱۱۵ سروې شويو هېوادونو ترمنځ يو هېواد هم و نه توانېده چې د خلکو د ګډون لپاره د موکو برابرلو اړوند کافي نومرې (۶۱ يا له هغې پورته نومرې) ترلاسه کړي. ددې شاخص اوسط نومرې له سلو څخه ۱۲ وې چې ۱۱۱ هېوادونو پکې له اړينو ۴۱ څخه ټېټې نومرې اخستې وې. افغانستان د بوديجېجوړونې په بهير کې د خلکو د ګډون لپاره د موکو برابرولو په شاخص کې ۱۵ نومرې اخستې دي. د محرومو او اسېبپذيره خلکو د رغنده ګډون څخه پرته، د بوديجې سيستم ښايي يوازې د زورواکو او اشرافو ګټې خوندي کړي.

د پرانستې بوديجې سروې د روڼتيا او عامه ګډون د ارزولو ترڅنګ د څار د رسمي نهادونو لکه د تفتيش عالي اداري يا ملي شورا رول هم تر څېړنې لاندې نيسي. د سروې موندنې ښيي چې يوازې (۲۸٪) يا د ۳۲ هېوادونو ملي شوراګانو د څار کافي هڅې لرلې، ۴۷ هېوادونو چې (۴۱٪) ترې جوړېږي، د څار محدودې چارې ترسره کولې او ۳۶ هېوادونو يا ۳۱٪ يې د څار کمزورې چارې لرلې. همدارنګه د پرانستې بوديجې سروې ښيي چې په ۱۱۵ هېوادونو کې ۷۵ يې چې ۶۵٪ کېږي، د کافي څار په موخه د تفتيش عالي اداري لري. د بوديجې د غوره پلانجوړونې او پلي کولو لپاره د څار د خپلواکو او ښه بسپنه شويو نهادونو شتون ډېر اړين دی.

په افغانستان کې د څار د رسمي نهادونو په برخه کې، ملي شورا د بوديجې د پليکېدا په پړاو کې د څار ۴۷ نومرې او د بوديجې جوړونې په پړاو کې يې ۱۹ نومرې اخستې وې، پداسې حال کې چې د تفتيش عالي اداري ۶۷ نومرې ترلاسه کړې وې. د ولسي جرګې د ټيټو نومرو لامل د عامه خلکو د ګډون نه شتون دی. که چېرې ولسي جرګه پدې بهير کې په منظم ډول د خلکو ګډون پراخ کړي نو د بوديجېجوړونې په برخه کې خپلې نومرې لوړولای شي.

که څه هم افغانستان د سمون لپاره ګامونه پورته کړي، خو دا پرمختګ بايد ټکنی نشي. افضلي وويل

«حکومت د ریښتیني پرانستي بودیجي د بنسټ ایښودو لپاره ډېر کار کړی – او راتلونکی ګامونه باید دداسي میکانیزمونو جوړول وي چي د بودیجي په بهیر کي د خلکو ګډون پراخ شي، لکه د مشارکتي بودیجې، ولایتي بودیجي او ټولنیز تفتیش لارې چارې».

ددې سروی ټولي موندني دومره منفي هم نه دي. د پرانستي بودیجي خوا ته ډېر پرمختګونه شوي دي. که څه هم د ۲۰۱۵ کال په پرتله دا ځل د بودیجو اړوند د خپاره شویو اسنادو شمېر راټیټ شوی ؤ، خو په خپاره شویو اسنادو کي د پخوا په پرتله ډېر مالومات ورکړل شوي وو. سره ددې چي د ۲۰۱۵ کال په پرتله په ټولیز ډول د نړی په کچه رونټیا کمه شوې، خو بیا هم د تېرې لسیزې په پرتله په ۲۰۱۷ کال کي د رونټیا کچه ډېره لوړه ده.

کرافچیک وویل «د سروی ددې پړاو د رونټیا نومرې ښیي چې هر حکومت کولی شي چي لا ډېر شفاف واوسي. ډېری هېوادونه کولای شي چي د هغه اسنادو په خپرولو سره خپله رونټیا په چټکه توګه ډېره کړي چي دوی تیار جوړ کړي دي. ډېری هېوادونه شته چي رپوټونه او اسناد تیاروي خو په خپلو رسمي ویبپاڼو یې نه خپروي، پداسي حال کي چي نور اسناد خپروي، نو دوی کولی شي چې ټول اسناد پخپلو ویبپاڼو خپاره کړي»

**د رسنیو د اړیکي لپاره**

وحیدالله عزیزي

۰۷۰۵۶۶۶۹۶۲ / ۰۷۸۰۹۴۲۹۴۲

wahidullah.azizi@iwaweb.org

په لاندې تړوني کی ویدیو وګوری:

https://www.youtube.com/watch?v=d9Kgglhu8nM